مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالخالق رشید

۲۰۲۳/۰۸/۱۲

الله گل دانه دانه ، دانه دانه
شوروي قارکده نمیره خانه
الله گل دانه دانه
*
*
**
***
****
********
*************



# د مرسلي پرسر ستوري

## (ناول)

### څلورمه برخه

۱۹۸۰ ـ ۱۹۸۶ کلونه

لیکوال

ع .رشید



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

(۵)

## تـــورتمـــونه او تـــا بـوتـــونه

د ۱۹۸۲ کال داوړي تودې شپې ورځې نوې پيل شوې وې،د روسانو اوافغانانودپرله پسې درنې اونامعلومې جګړې پای لاهم چا ته نه ښکاريده، په ټول افغانستان کې درانه پوځي عمليات دروسانو له خوا پلان او عملي کيدل...اودانو هغه کال وچې نورنوروسانونه ويل چې ددوی سرتيري په افغانستان کې ددغه هيواد له خلکوسره يوځای دسولې اودوستۍ نيالګي دسولې اودوستۍ په پارکونو کې کينوي.اوس دوی پوهيدل چې جګړه جګړه ده اودوی هم په داسې توده جګړه کې سره ښکيل شوي وو،لکه ليوه چې نه يې د ښکاري له لومې ځان خلاصولای شواونه يې د تيښتې لاره موندلای شوه،ځکه نونورناچاروو چې بايد لومه له خپل ټول دروند والي اوپيچل والي سره پرځان پسې وروکاږي هغه چې په خپل وار خورا درنده هم وه...

درانه عمليات روان وو،دولتي اوشوروي سرتيري ووچې چا به پرمخ حرکت کاوه ،څوک به شا ته راروان وو،چا ته به مډالونه او بهادرۍ ورکول کيدې اوڅوک به بيا د تورن اوجزايي په نومونوشوروي ته استول کيدل اويا به دلته په افغانستان کې سزا ورکول کيده...داچې هلته به بيا څه ورباندې راتلل،په دې يې بيا څوک نه خبروواونه پوهيدل... خويوځه چې انسان نه پرې وياړل هلته ددغې جګړې مخالفينوته وردغاړې وو...

شورويان هم اوس دغه ناپايه سفرپه منځ کې حيران وواونه پوهيدل چې پای به يې پرڅه باندې پای ته رسيږي...په جسمي او رواني لحاظ هم دوی نارام شوي وو...ان داسې چې دمرکزي آسيا يوزيات شمير مسلمان سرتيري خوبې په بې صبرۍ له مجاهدينو سره يو ځای کيدل اويابه ورتښتدل...اوددې ټولو خبروموخه بياهم داوه چې دوی نه پوهيدل چې برۍ به څنګه اودچا وي ؟رښتيا خبره خوداوه چې ددواړو لوريوپوځيان په يوه تور تورتم او توره خړه کې د جګړې په دوه لارې کې حق حيران مخ په وړاندې روان ول،په دولتي سرتيرو کې زياتره خلقيان افسران ووچې هغوي خپل واک دنړيوال سترځواک دجبرپه وړاندې له لاسه ورکړی و،ځکه نوهغوی هم اوس مات زړه وو اوپه ډيره سختۍ به يې جګړه کوله، دامين وژل کيدو دهغوی مورال ګرد سره کمزوری کړی و،همد اوه چې زياتره يې د روسانو تربرې د مجاهدينوپربريو باندې خوشاله وو.دوی اوس پردي هم ښه پوهيدل چې دا جګړه يوه پردۍ جګړه اولوبه ده ځکه يې برۍ هم روسانواوهم دولتي سرتيرو ته شوني نه و.اوس دغه جنګيالي خلقي سربازان هم پردغه ټکي باندې دريدلي وو چې ويل به يې:موږ دتيارو په زړه کې له تيارو سره مخامخ يو، ترڅو او تر کله ؟ اوولې؟اوموږ نه غواړو چې دپرديواودهغوی د ګوډاګيانوله پاره دملت دارادې په وړاندې خنډشو... ځکه خودجګړې تله دهرې ورځې په تيريدوسره ترروسانو دمجاهدينوپه ګټه درنديده اودرنديده...

دوړې دمياشتې څوويشتمه ورځ وه،په دغه ورځ هم په لوګرکې درنه جګړه وشوه،دواړولوريوته درانه زيانونه ورسيدل، دمجاهدينو درې مهم قوماندانان روسانو ونيول،کله چې سرتيرو اونوروخلکو ددغو نامتوقوماندانانو دنيولو خبره واوريده ،ټولوهمدا ويل چې نوربه په ټول لوګرکې خولا څه چې په ټول افغانستان کې به حالات کابو کيږي ... جالبه خولا داوه چې له روسانو سره په يوه وخت کې مجاهدينوهم له روسانو درې منصبداراوترلسو زيات سرتيري نيولی وو. په دغه جګړه کې دواړې خواوې په دې پوه شوې،چې يوه خوا هم وړونکې نه وه...اوجګړې يوازې انسان واژه اوانسان ته يې دانسان په سترګې نه کتل...

جګړه يوڅو ورځې نوره هم دلته روانه وه.نيول شوي قوماندانان په بيړه کابل ته واستول شول اود روسي يرغملو لپاره هم بيلابيلو شبکو په خپلو کړو وړوباندې پيل وکړ،جاسوسان وګمارل شول، ان په کابل او ماسکو او پاکستان کې هم دروسي يرغملو د خلاصون په خاطر هڅې پيل شوې، ځکه چې په نيول شويو کسانوکې يوهم د لېننګراد دولايت ديوه لوړرتبه کمونست مشر زوی يوري هم و.

په هغه ورځ چې هغه د افغانانو پرلاس کيوتی و،دهغه د ښوونځي د دوري دملګرې (انا) ليک د عملياتو په قرارګاه کې د لوړرتبه امرانو ترمنځ لا س په لاس کيده . دوی ټول دهغه په يرغمل کيدو ډير خواشيني وواوفکريی کاوه چې پرهغه به خامخا يو څه کيږي ؟ او څنګه به کيږي ؟ اوياداچې هغه به اوس په څه حال وي ؟ مړ به وې ، ژوندی به وي ؟ دغه ليک هم په داسې يوه وخت کې دلته رارسيدلی و چې نه يوازې دهرسرتيرې ترزړه وينې ورته څڅيدې، بلکه ديوه ځوان اويونجلۍ دمينې کيسه يې هم هرچا په خپلو ليدوسره وريادوله اوټول ورباندې پوهيدل (ځکه چې په دغه وخت کې روسي تيروته ددوی ليکونه له سانسور پرته نه رسيدل) په ليک کې يو شمير خبرې داسې هم وې چې هغو په افغانستان اوشوروي کې دهغواودغوخلکو د زړونو تعبيرهم کاوه، په يوه ځای کې هغې نجلۍ ليکلي وو:

»زما دمينې دجنت دباغ يوازنی هيلې!

کاشکي چې ستا په سمندري رنګه سترګو کې مې دخپل بايللي اوزخمي زړه خونړي او په وينو رنګ زخمونه ليدلی وای، کاشکي ستا د ژوندۍ سرې اوسترې آه شمال زما په رنګينه باړخوګانو باندې خپل سترې وزرونه لکه د پخوا په شان همدا اوس يوځل بيا راخواره کړي وای ، ډيرمې ياديږې ... هو، تيره اوونۍ هوايي ډګر ته دپلار هرکلي ته تللې وم، په هغه ورځ مې پلار رانغئ، له يوې الوتکې يې دماښام په تورتم کې بې شميره تابوتونه را کښته کړل،ما



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هغه له لرې وليدل ، يوچا مې په ډيراحتياط سره په غوږ کې د کنګوسي په چل رازمزمه کړه چې: داټول له افغانستانه را روان دي،په خپل پښو يې بيايي او په تابوتونو کې يې بيرته پرموراو پلارسپاري ... په هغه شپه مې ستا په باب هم ځورونکي خوبونه ليدل، داسې چې تراوسه يې هم را يادوم ځوروي مې،کله چې هغه تابوتونه اودهغه لوی سرې خبره را يادوم ويښته مې را زيږه شي ... په دي هيله چې يا دخپله وګورم او يادی ليک زر را ورسيږي ... له لرې لرې دې په مينه مينه مچوم ... پوپ ... پوپ ... ستا انا« ....
دجګړې بدمرغيو لاد لوګر،غزني او وردګو په درواو رغو کې خپلې ناخوالې اوناشولته انګازې کولې ، خو دومره هم نه لکه د څو تيرو ورځو په شان،د نادرجان او کرچکوف لپاره اوس بله
موضوع هم را پيدا شوه،هغه داچې په هغه ورځ چې د سمسو رکلي د رڼو اوبو پرچينه يې د ټکنده غرمې پرمهال اوبه وڅښلې،دکبانو دمستيو په زړه پورې ننداره يې وکړه ،کرچکوف داخبره نادرجان ته کړې وه:
ـ زموږ روسانوپه منځ کې دا آوازه ده،چې د لیننګراد د... زوی يوري چې په هرډول کيږي بايد را خوشی او له مرګه وژغورل شي...
ـ ښنګه او په کومه لاره ،
ـ زياتی خبرې خوداشان دي چې يوازې دهغه په بدل کې بايد د افغانانو ښايسته ډير زندانيان چې دکابل له حکومت سره دي خوشي شي.
ـ يوازې هغه بايد وژغورل شي ؟
ـ هو، هغه دمهم سړي زوی دی ، دنورو خبره دومره مهمه نه ده ځکه چې نور خواران خوزموږد واکمنانانو په نظرهسې د پيشو بچيان دي، دا ډول کسان خوهره ورځ په سلګونه بسمچيوته ورتښتي او يايې ژوندي نيسي، يوازې په دي يوه تيرکال کې څومره روسان دلته ورک شول چايی پوښتنه وکړه،اويابه يې څوک په فکرکې هم شي...
ـ زموږ دکندک سياسی مرستيال خوهم په همدغه لانجه کې له يوشمير سرتيرو سره اسيرشوی دی،دهغه په باب موڅه اوريدلي ؟
ـ نه بابا ، ستاسې منصبدار خوکه جنرال هم وي،په پوښتنه نه ارزي،افغانان بد بخت خلک دي،مجاهدين يې پردې ټينګارکوي چې افغان پوځيان خو بايد چې يوهم ژوندی پاتې نه شي ...دوی اوس يوازې روسي سرتيری اومنصبداران له ځان سره ساتی هغه هم د معاملې او بدې ورځې لپاره بس...
دوی دواړو په هم هغه ورځ دا خبرې هلته وکړې اوله هغه ځايه مخامخ بيرته دصحرايی قرارګاه پرلور روان شول...
کرچکوف پرهغه ورځ ترهغو شنوونو لاندې دا خبره هم ورته کړې وه چې که د بنديانو دتبادلې خبره توده شوه ،کيدای شي چې دی دغونډ له قوماندان سره پردغه موخه کابل ته ولاړ شي.هو،کابل ته،وهغه ښارته چې نن سبا د دغه ښارد نااهلو بچو له لاسه د دوو هيوادو پلازمينه غوندې شوي و ، پلازمينه،د شوروي اوافغانستان!
د لیننګراددلوی کمونست مامورزوی يوري اوس دافغانستان ترپولوهم ايستل شوی و،خود بيلابيلو ملګرواودوستانوليکونه اوتلګرامونه لاهم په پرله پسې توګه ورته راتلل...اودغونډ دقوماندان پرميزباندې به يوپربل خره کيدل،هرچابه چې وليدل ،دخواشينی يوه درنه آه، به يې ورته وايسته او ترې تيربه شول،د انا ليک تراوسه هم د قوماندان دميزپريوه څنډه باندې پروت و...هلته چې يوازې همدې يوې جملې به يې دليدونکي پاملرنه وراړوله...«څو تابوتونه يې راکښته کړل،ما هغه وليدل،خو يوه شوم چې هغوی څوک وواوله کومه يې راوړي وو...په هغه شپه مې ستا په باب ځورونکی خوبونه ليدل،داسې چې تراوسه پورې پرځوريږم«...
يوه دوې ورځې نوره هم خبره همداسې پاتې شوه، يوازې پرله پسې شفرونه ووچې په دغه برخه کې دغونډ لوی قوماندان واسيلوف ته راتلل اوهمدايی پوښتيدل چې دا معلومه کړې چې د دوی کس ژوندی دی که نه،که ژوندي وي چې دکابل،ماسکواو اسلام آباد په کچه هغه هم يوازې ددغه سترکمونست مشردزوی لپاره خبرې پيل کړي...
روسی قوماندان ښه وارخطا و،په دې څوورځوکې يې په سګريتوڅکولوکې ديوې شيبې لپاره هم ځند نه وراغلی،لامل يې هم داوچې داسې مهم کس چې هغه د شوروي په لوړې پوړی پوړې اړه درلوده،د دوی په دومره لوی ځواک سره دافغان مجاهدينو په اولکه کې و،د دوی کشف خو په دغه سيمه کې ګرد سره ناکام وځکه يې نه شوای کولای چې دهغه د ژوند اومرګ په اړه ډيرلږ معلومات هم ترلاسه کړي.د نادرجان د کندک مرستيال ته يې ويلي ووچې که دوی دخپل چينل له لارې هرډول معلومات ترلاسه کولای شي، په هرقيمت چې وي بايد له دوی يې ونه سپموي...حکيم خان عښتلی ځوان و،اوږده قد اولوړوبريتونويې چې هرچابه ليدل،په رښتياهم دده له ميړانې اوغيرت سره يې خوند ورکاوه ... دی چې له کومې ورځې کندک ته راغلی و،لکه دنورومنصبدارانوغوندي يی روسانو ته سرنه ټيټيده او نه يې دهغوی زياته پروا ساتله،د روسانو ترراتګ دمخه دی په کابل لوی منصبدارو،خواوس يې له دې امله چې دتيروخلقيانوله ډلی څخه و،دی يې هم دلته لرې را استولی و.دده له روسانو سره ځکه نه لګيده چې دده دملګروپه وينا دی دډيرکلک (اميني) په نامه نامتو شوی و. ځکه خوبه کله کله سرتيروهم په خپلو منځوکې دا خبره کوله :« که دحکيم خان وارهم کله روسانو ته برابريده ،خدای ښه پوهيږي چې دی به څه شان نخرې وربانډې وکړي«...
په دغه شپه هم روسي قوماندان له ده څخه هيله کړې وه چې له دوی سره د دوی ديرغملودمعلومات په موندلوکې مرسته وکړي،دوی يوازې دومره معلومات غوښتل چې هغو مړه دي اوکه ژوندي...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ښه تصادف وشو،په دغو ورځوکي دحکیم خان دوی دکندک وسلي اومهمات مخ په خلاصدو وو،ځوځو ځلی یي له دوی هیله کړې وه چي له دوی په دغه برخه کي مرسته وکړي،خوهغوی له دی امله چي پرحکیم خان اونوروافغان ځواکونو یي باورنه و،له دغي ورکړې اویامرستي یي انکارکړی واو ورته ویل به یي چي موږ شته یو فکرمه کوئ ...چي دوی هم څه نه شوای ورته ویلای،خو په دغه شپه هم دوی ته خدای یوښه چا نس برابراوه اوورته برابرشو،حکیم جان خپلو دریوتنو سرتیروته چي دده له باوري کسانو څخه وو، وطنی کا لي وراوغوستل، په نیمه شپه کي یي روسی قوماندان ته احوال ورکړ چي ده د دوی د اسیرانو په برخه معلومات ترلاسه کړي، باید زرترزره ورسره وګوري ...خپل دری تنه سرتیري یي دشاه وخوا کلیو کسان وروپیژندل اوداډ یي ورکړ چي دوی کولای شي د پیسو اووسلوپه بدل کي موږ ته ټول معلومات راوړي،چي روسي یرغمل چیري اوله کومي جنګی ډلي سره دي ...دوی کولای شي له موږسره د هغوی د ژوندي پاتي کیدوپه اړه هم مرسته وکړي...
ساده روسی قوماندان اواړوندانو یي هم خبره ومنله،خو ستونزه داوه چي له دوی سره دم ګړی دومره افغانی نه وي چي دوی ته یي ورکړې وي، د وسلواومهماتو په برخه کي خو دوی ستونزه نه درلوده، له دریو کسانو څخه یوه قوماندان ته په خورا ډاډه زړه او خلاص تندي وویل:
- خیردی،موږ ته دهاوان شل ګولی راکړئ هغه به پرمجاهدینو خرڅي کړو،داخپله زموږ لپاره پیسي دي،نادرجان همدغه خبرې قوماندان ته وژباړلي،په خوشالی یي حکیم خان ته وکتل او ورته ویی ویل:
- د شلو صندوقو پرځای به دیرش درکړو،مقصد موږ ترسبا ماښام پورې زموږ د اسیرانودبرخلیک په اړه د کره معلوماتو غوښتونکي یو...
جګړن حکیم خان دده وړاندیز په زړه پورې وباله او په هم هغه شپه کي یي هغه ګولی د حکیم خان په منځګړیتوب دروسانو له صحرایي قرارګاه څخه راویستي اوترلاسه یي کړي،خو روسانو ته معلومه نه شوه چي ګولی چا او چیري یووړي ، خو ګولی او نورهرڅه چي له روسانو څخه ترلاسه شوي وو،هغه حکیم خان په هم شپه کي خپل کندک ته ورسول ، ګولی یي په هم هغه شپه د شاوخوا پرپوستو باندي وویشلي اوروسي قوماندان په هغه شپه یوڅه آرام خوب وکړ...
قوماندان فکر کاوه چي سبا به په رښتیا هم داسیرانو په اړه کره معلومات ترلاسه کړي،هغه ورځ ترماښامه پورې خورا ورباندي اوږده شوه،خو چي کله ماښام شو ، له پرونیو سرتیروچي له لرې پوستویي راوستي وواود ډرامي په ټولواړخونښه پوهیدل،دوی له حکیم خان سره یوځای دقوماندان دفترته ورغلل، قوماندان دچا خبره په جامو کي نه ځایده لکه تندي وهلی مرغه دسرتیروسترګو اوخولوته یي کتل،چي څه ورته وایی اوڅه زیری ورته لري،دسرتیرو یا په بله وینا دارتباطي کسانو یي تود هرکلی وکړ،داسي چي تا به فکرکاوه دوی له یوه اوبل سره له کلو کلو یاران او ملګري دي،جنګ یو بدمرغه چلند دی چي انسان باید تل پرې وشرمیږي،ځکه چي دا دانسان د ټولو بدمرغیو مورده ...
حکیم جان هم داد نه منلو وړډرامه ولیده، له هغي ورځي پردې باوری شوی واوله هرچا سره داخبره کوله:چي په پردیو باندي باورله لړم اوما رسره دیاراني سرنیول دي...
کله چي د دوی تود هرکلی پای ته ورسید نو بیا قوماندان په هغه ټول ځواک سره چي ده دلته درلود په خواره ځیره ورته وویل:
- په خیرراغلئ ،دوستاو په لیدومود زړه له کوي خوشاله شوم ...اصلي خبره راته وکړئ...
سرتیرو یا ارتباطي کسانو خپلي خبرې مخکي له مخکي سره جوړې کړي وې ، ځکه نویوه د نورو په استازیتوب ورته وویل:
- ته خوراهوښیا راوتجربه لرونکي افسر یي،که موږ پرون له مجاهدینو سره تماس نه وای نیولی کیدای شو چي نن به مو یو یرغمل هم ژوندی نه وای پاتي، هغو ګرده ژوندي دي، پرون هغوی تر پکتیا پورې رسیدلی ،کیدای شی سبا یي ترپوله واړوي ، خو یوه شي ته مو پام وي چي سبا باید د پکتیا پرلورهوایي بمباری ونه شي،ځکه دوی په ډله ییزډول له یوه ځایه بل ته حرکت کوي ...هو،دوی باید ستا ددغي هوښیاری ستاینه اومننه وکړی...
د قوماندان لپاره دغه معلومات دومره په زړه پورې وو،چي فکردې کاوه هغه ته چا نوی ژوند وربښلی دی،د میزسرتیب ریکارد اونورزینتی شیان اوڅه روپی یي له ډیرې خوشالی ارتباطی کسانو ته چي ده فکرکاوه دا له نژدې کلیوراغلي کسان دي ټولوته ورډالی کړل،ان چي مشرته خویی خپله مکروف تومانچه هم ورکړه...
دجګړن حکیم جان ډرامه پای ته ورسیده اوروسي قوماندان په هغه شپه خپلو ټولو مقاماتو ته د خپلو یرغملو ژوندیتوب دزیري تاوده تاوده شفرونه تران ترماسکوه پورې وراستول...په هغه شپه یي له خپلو منصبدارانو سره د خوښي یوه درنه غونډه جوړه کړه چي ټوله شپه یي په کي وڅښل او وڅښل...
نادرجان دغه ډارمه له کرچکه پټه وساتله،په هغه ورځ چي نادرجان روسي قوماندان د ژباړې پرموخه ورغوښتی و،دغرمي د ډوډۍ پرسرسره یوه ځای شول ، یاده شوې ډرامه یي په داسي ژبه چي ګواکي پرکوم بل قوماندان باندي تیره شوي د بیلګي په توګه ورته کیسه کړه،هلته داخبره ځکه سره یاده شوه چي کرچکوف په خندا کي وارد واره ورته وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

- وايي چې اوږد قدي خلک ډيرنادان وي،لکه حکيم خان اوزموږ دموټرلرونکي ټولي قوماندان موخين...
نادرجان بيا ورزياته کړه:
- د لنډ قدو بي عقلی او نادانی که ووينئ پردوی به شکر وباسې و ما چې د لنډ قدي قوماندان ساده ګي اوناداني وليده،په حکيم خان او موخين کې دهغې نادانۍ سلمه برخه هم نه ترسترګو کيږي،د تيرو دريو ورځو مثال يې هم د همدغې يادونې په ترځ کې ورته ووايه... خودکرچکوف زړه ته ورسيده اويابه هم خبرو،ځکه يې ترخوله ورته راووتل:
- زه فکرکوم چې دنادانۍ دغه کيسه به بل ځای نه وی تيره شوې، په موږکې هم يوله نادانواوبې عقلانوڅخه (قوماندان ) دی،چې ددووخرو اوربشي نه شي سره ويشلای...
په خوړن ځای کې داله پګچوا سندرې نرې نرې انګازه کول،چې پرغوږو باندې له شکه پرته ښه لګيده.منصبداران يوپربل پسې تلل اوراتلل،ډوډۍ يې خوړه اوتلل،خو يوشميربه تر ډيروپورې هلته ناست وواوخبرې به يې سره کولې...د دوی په قرارګاه کې داترټولو لويه خيمه وه،داسې چې ديوسالون بڼه يې درلوده،کله چې نادرجان او کرچکوف له خيمې راووتل، بيايې ورو ورو په قدم وهلو پيل وکړ، داسې چې ګواکي چا ته انتظار باسي،په همدغه شيبه کې کرچکوف داخبره ورته کړې وه چې د دوی ديرغملو خبره اوس د تبادلې پړاو ته رسيدلې ده،دمجاهدينوچې کوم قوماندانان په کابل کې بندديٍ،هغوی به ټول خوشي کيږي اوزموږ يرغمل شوي کسان به ټول پرموږ باندې سپاري.سبا زه له يو شمير نورو لوړرتبه مصبدارانو سره چې هغوی پرون له پنجشيره راغلي اوهلته يې له مسعودڅخه چې زموږقراردادې دۍ مرسته غوښتې وه اوهغه هم دمرستې ژمنه ورسره کړې کابل ته روان يم.موږ دهغوی يرغل له کابله راباسو،دلته يې راولو،زموږ يرغمل به هم يا دلته راولي او يا به يې په پنجشيرکې مسعود ته ورسپاري. کرچکوف داخبره هم ورته کړې وه چې:تاته به معلومه وي که نه زه فکرکوم چې زموږ يرغمل به نن سبا ترمسعود پورې ورسيږي.ځکه هغه زموږ پروتوکولي اوموږ له هغه وروسته چې په پنجشيرکې مومحاصره کړ،بياموږدهمدغه تړون پربنسټ خوشي کړ،اوس دلنينګراد دلوړرتبه مامورد زوی په خلاصوناو تبادله کې دی هم بی برخې نه دی...
خو کرچکوف پردغه کارخوشاله نه و،ځکه چې څه موده پخوا په کابل کې دکانو د وزارت يوروسی سلاکارهمداسې يرغمل شو،هغه سلاکارده پيژاند اودده د ولايت و ، هغه په کاني انجينرۍ کې دروسيي په کچه ډيرمهم کارپوه و،دهغه په اړه زياترو پوه روسانوان له ماسکوڅخه غوښتنه وکړه ان موږ ته يې ليکونه را استولي وو چې دهغو دخلاصون په اړه بايد لاس په کارشی خوداکاردهغه په اړه ترسره نه شو ، مجاهدينودهغه د خلاصون په بدل کې درۍ تنه جنګيالی وغوښتل،خو روسي چارواکو اوافغانی لاسپوڅو دادخپل واک او قدرت لپاره کسرشان اودخپلې واکمنۍ د کمزورۍ نښه بلله،ځکه نو پردې سره يوه خوله شول،چې داکار ناشونی دی،پردغه کاراو دغه تبادله به د روسانو دلويۍ شمله را ټيټه شي،دوی،لاداخبره هم ورپسې وتړله چې ګواکي روسان دکانو په برخه کې ډيرکارپوهان لري،ځکه نوتريوکان پوه موږ ته زموږ په انترناسيونالستی لويی اودريځ کې د پاملرنې وړنه دي...
خو اوس چې ديوه لوی چا دزوی خبره رامنځ ته شوه،دلته بيا نه د لويی خبره وه او نه هم د انترناسيونالیزم پوښتنه اوبدنامي ... ؟؟؟
سم دوی له يوه او بل سره خدای پامانی وکړچې دقرارګاه پرشاوخوا باندې د دوی په وينا دبسمچيود ليونيو ګولي دربی جوړشو،چې شاوخوا يې ټوله ليونيو دوړواوګردونو په سرواخيسته اوهرچا ځان اوس دخپل مورچل پرلوررساوه، د دواړوخواو ترمنځ لنډه ليونۍ نښته وشوه داسې چې دماښام ترووروستيو يې دوام وکړ،ډيرمرګ ژوبله په کې نه وو، يوازې يې دروسانودغره پرسرپوستې څخه اته تنه سرتيري له يوه قوماندان سره يرغمل بيولی وو،خودعملياتو قوماندان درګرده شفرونه ليږل چې جګړه وشوه خوکومه لويی بايلنه په کې نه وه،پرته له دغواتوتنوپوځيانوچې هغوی ژوندي بسمچيو له ځان سره بيولي اوبس...
او له هغې لنډې نښتې وروسته هغه شپه ډيره آرامه وه،خودهغو اتوتنوخبره لکه چې په هم هغه شپه همداسې چوپه پاتې وه،همداسې چوپه پاتې شوه ... اوهيچا هم ترډيروپورې دهغوی په باب څه لکه دلينڼګراد دلوی چارواکي دزوي يوري په شان وانه اوريدل ....اوداوسوسياليزم ؟

پاتې لري...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ